ژباړه : رحمت آریا ۲۰۰۹زکال سپتمبر

د طالبانو د جنایاتو بیه : دافغانستان په شمال کې د پښتنو کَړَول او ځورول

یولسمه برخه [وروستۍ]

HUMAN RIGHTS WATCH APRIL ۲۰۰۲ VOL. ۱٤, NO. ۲ (C) انګریزي اخځ

د افغانستان په شمال کې د امنیت د ودی په لاره کې لومړني ګامونه

د افغانستان د لنډ مهالي دولت د واکمنۍ اغیزې له کابله د باندې ډیرې لږ دي او په ټول افغانستان کې د قانون د پلي کولو وړتیا هېڅ شتون نه لري. اوس اوس ، افغانستان ملي وسلوال ځواک نه لري ، ډیرو کلونو ته اړتیا ده چې ملي وسلوال ځواک جوړ شي.[1] د افغانستان د لنډ مهالي دولت رئیس ، حامد کرزی یوازې کولای شي له جګړه مارانو په ننواتو وغواړي چې د خلکو ځورول بس کړي ؛ کرزی نه شي کولای نیغ په نیغه د جګړه مارو په چارو کې لاسوهنه وکړي. [2]

سره له دې چې لنډ مهالی دولت په یوازې سردومره ځواک نه لري خو پر ژب توکمیز پرېښت ولاړې درې ډلې چې د وحشت او ځورونو پازوالي په غاړه لري او په ګزارش کې ورته نغوته وشوه ، د همدغه لنډ مهالي دولت غړي دي. د جنبش له ناندریو ډک بولندوی جنرال عبدالرشید دوستم د لنډ مهال دولت د دفاعي چارو مرستیال وزیر دی. محمد قسیم فهیم د احمدشاه مسعود له وژل کیدا وروسته د هغه ځای نیوونکی او د جمعیت د ټولو ځواکونو بولندوی دی چې د لنډ مهالي دولت ددفاعي چارو وزیر دی. حاجي محمد محقق د افغانستان په شمال کې هم د وحدت د ځواکونو بولندوی او هم د پلان وزیر دی او هم د حامد کرزي د وزیرانو د کابینې له پینځو منشیانو څخه یو مرستیال منشي دي.

د افغانستان د ملي وسلوال ځواک د جوړولو لړۍ د پیل کیدا په درشل کې ده ، لویو سیمه ییزو جګړه مارو توپکواکو په رسمي ډول اعلان کړی چې په دغې لړۍ کې به د همکارۍ حضور ولري. د افغانستان په شمال کې د مزارشریف په ښار کې درو سیالو ډلو پریکړه کړې چې د ښار د امن لپاره به د پولیسو یو ۶۰۰ کسیز ګډ ځواک جوړوي او په دې سلا شوي چې خپل سرباري سرتیري به له ښاره دباندې و باسي. له دې سره سره چې د مزار شریف په ښار کې د ژب توکمیزو ملیشاوو شمیره تر یوې کچې راټیټه شوې ،خو بیا هم بیلابیلو ډلو ته پالیال وسلوال سرتیري ښار ته ګواښونه رامنځته کوي او کړه وړه یې داسې ښکاري چې هره شېبه جګړې ته چمتو دي.[3]

د اوریز ځواک پوځي انډول ته په کتلو هېڅ شک نه شته چې د مزار شریف په ښار او د افغانستان په ټولو شمالي ولایتونو کې د پوځي انډول ځواک ، د جګړه مارانو په لاس کې دی.

د پښتنو د ځورونو او د هغوی پر وړاندې روان وحشت ته په ځواب کې یو شمیر جګړه مارو توپکواکو د چارو نوښت په خپل لاس کې اخیستی دی. د افغانستان په یو شمیر شمالي برخو کې جنبشي جنرال عبدالرشید دوستم هغه بولندویان له کاره شړلي چې د پښتنو په ځورونه او کړولو کې ښکیل ول ، دا هغه ګام وو چې په نورو سیمو کې یې د پښتنو پر

[1] "Creation of Afghan army will take 'probably years': ISAF Chief," Agence France-Presse, March 2, 2002.

[2] Anna Badkhen, "Afghan Militias Rule Outside Kabul: Weak Interim Regime Can't Stop Warlords' Ethnic, Tribal Skirmishes," *San Francisco Chronicle*, February 4, 2002.

[3] Liam Pleven, "Their Dangerous Alliance: In Mazar- i Sharif, gunmen won't leave," *Newsday*, March 1, 2002.

افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وړاندې د وحشت کچه لږ څه راټيټه کړه. په نورو سيمو کې جمعيتي او جنبشي بولندويانو په پښتون ميشتو ټولنو کې پوځي پوستې اچولې ترڅو دغو سيمو ته امن راولي. خو په نورو ځايونو کې يو شمير خپل سري او ځوروونکي بولندويان پرته له دې چې څوک ورته سزا ورکړي يا يې مخه ونيسي بيا هم د پرګنو ځورونو ته دوام ورکوي. د بشري حقونو د څار د ټولنې په لاس کې داسې لاسوند نه شته چې چا دې يوه بولندوی ته د هغه د پخوانيو کړوړو او چلند پر بنسټ سزا ورکړي وي ، او نه داسې بيلګې زموږ په لاس کې شته چې کوم جګړه مار دې د پښتون ميشتو سيمو د وګړو پرضد د رامنځته شوي تاوان په بيا ورکړه کې هڅه کړې وي اويا دې چا د هغوی کوکارو ته غوږ نيولی وي.

د نړيوالې ټولنې ونډه
امريکا او د امن لپاره نړيوال امنيتي ځواک (آيساف)

د امريکا متحده ايالات د افغانستان په اړه پر نړيوالې اجنډا پياوړې اغيزه لري. د ملګرو ملتونو د سکرترجنرال کوفي عنان په وروستۍ وينا کې د افغانستان په اړه د امريکا د دولت او د نورو دولتونو د دريځونو توپير غبرګون موندلی دی : " د افغانستان په پوځي ډګر او امنيتي چارو کې هغه څه ته چې امريکا چمتو ده تر سره يې کړي ، يايې نه کړي هرو مرود هغو دولتونو پر دريځونو باندې ټينګه اغيزه شيندي چې غواړي په افغانستان کې يې پلی کړي.[4] "

د امريکا پاليسي جوړوونکي ، د جګړه مارو له جګړه پالنې او په افغانستان کې د ژب توکميزو شخړو له ناندريو څخه په څرګند ډول خبر دي ، خود افغانستان ستونزو ته په ځواب کې د پاليسي جوړونکو په منځ کې د امريکا د ژمنې او ليوالتيا د څرنګوالې پر سر همغږي نه شته. د ۲۰۰۲ز کال د فبروری په مياشت کې د امريکا يو ډير محرم ګزارش خپور شو ، سي آی اې اخطار ورکړ که په افغانستان کې ژب توکميزو ناندريو ، شخړو او د جګړه مارو توپکواکو ستونزو ته ځواب ونه ويل شي ، نو ډير بوږنوړی ګواښونه به رامنځته شي.[5] د رسنيو ګزارشونو د امريکا د بهرنيو چار وزارت له خولې ټينګار کړی چې د امريکا د ولسمشرۍ اداره په پام کې لري د امريکايی سرتيرو له نيغ ښکيوالي پرته د بريتانيا تر مشرۍ لاندې د آيساف د ځواکونو لمنه دې پراخه شي ، امريکا ژمنه ده چې افغانستان ته د نورو ښکيلو هيوادونو سرتيري د هوا له لارې را ورسوي او هم د نورو هوايی لوژيستکي مرستو برابرولو ته ليواله ده.[6] افغانستان ته د امريکا ځانګړي استازي زلمي خليلزاد د ۲۰۰۲ز کال د فبروری په مياشت کې له افغانستانه له ليدنې وروسته خبريالانو ته وويل : " په افغانستان کې تر ټولو ستره ننګونه د افغانستان سياسي – ټولنيز ډګر ته د جګړه مارو د جګړه پالنې بيا راستنيدل دي. [7] " خليلزاد د آيساف د ځواکونو د لمنې د پراخولو د غندنې ترڅنګ زياته کړه " موږ نه غواړو افغانستان دې په داسې يوه هيواد بدل شي چې د خپل امنيت لپاره نورو ته د مرستې لاس اوږد کړي.[8] "

د امريکا د ولسمشرۍ په اداره کې د آيساف د ځواکونو د لمنې له پراخولو سره لوی مخالفت ان د امريکا د سرتيرو له ګډون پرته د امريکا د دفاع له وزارت څخه سرچينه اخيستې ده. د بهرنيو چارو د وزارت په کورنيو کړيو کې د آيساف د ځواکونو د لمنې د پراخولو په اړوند وړانديز ، د دفاع د وزارت له غير عادي ټولنيز مخالفت سره مخامخ شو او دليل راوړي چې د آيساف د ځواکونو د لمنې پراخول به هغه سرچينې منحرفه کړي چې له امريکا سره د ترهګرۍ پر وړاندې جګړې کې اوږه په اوږه دريدلې دي. [9] په دې اړوند د امريکا د دفاعي چارو وزير ډانالډ رامزفيلډ په خپل مخالفت کې دومره ټينګ و دريد چې د امريکا په تأريخ کې ددفاعي چارو هېڅ وزير دومره مخالف نه وو کړی او ټينګار کوي چې : " زما په ليد لوري کې بله لاره او چاره شته ، زما پوښتنه دا ده چې ولې [د آيساف د ځواکونو په پراخولو کې] دې دومره پيسې او وخت ولګول شي او ولې پر دغې خبرې ډير ټينګار کيږي ؟ ولې له [افغان چارواکو] سره مرسته و نه

---

[4] Elizabeth Neufer, “US, Britain Asking Turkey to Oversee Security in Afghanistan,” *Boston Globe*, March 14, 2002.

[5] Michael Gordon, “C.I.A. Sees Threat Afghan Factions May Bring Chaos,” *New York Times*, February 21, 2002.

[6] هماغه

[7] Marcella Bombardieri, “US Advisers Mulled to Aid Peacekeeping; Afghan Warlords Threaten Process,
Bush Envoys Says,” *Boston Globe*, February 25,

[8] هماغه

Gordon, “C.I.A. Sees Threat.”

افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

کړو چې دغه پیسې دې د یو ملي وسلوال ځواک پر جوړولو ولګوي و د تل لپاره به خپل امن به خپله و نیسي؟ [10] " د دانالډ رامزفیلډ په خبره کې ستونزه دا ده چې د هغه په باور د افغانستان د کارپوه وسلوال ځواک جوړول او روزل دومره وخت نه نیسي او ګومان کوي چې د امن لپاره نړیوال امنیتي ځواکونه (آیساف) به یوازې د امنیتي تشې په رامنځته کیدلو دغه تشه ډکه کړي.[11]

د آیساف هیوادونه

امریکا خپل پام د طالبانو له پاتې شونو القاعدې سره جګړې ته اړولی او د اروپایي ټولنې ټلواله د ملګرو ملتونو د امنیت د شورې د بن د ۱۳۸۶ ل [۲۰۰۱ز کال] د پریکړې پر بنسټ د امنیتي ځواکونو په برابرونه کې ونډه لوبوي. د آیساف ځواکونه له ۴۵۰۰ کسیزوسوله ساتو ځواکونو څخه جوړ شوي او د امنیتي چارو په اړوند یوازې په کابل کې دیره دي . تر اوسه د آیساف په ځواکونو کې اتلس هیوادونه ونډه لوبوي او په دې تړاو د امریکا ونډه دا ده چې دغو هیوادونو ته د ترانسپورت ، نورو لوژیستکي مرستو او په بیړنیو حالاتو کې د آیساف د ځواکونو د ایستنې لپاره آسانتیاوې برابرې کړي. [12] د آیساف د ځواکونو د اوسنۍ عملیاتي بولنې " قوماندې" واک د لویې بریتانیې په لاس کې دی دغه واک به د ټاکل شوي مهال ویش پر بنسټ د شپږو مېاشتو له بشپړیدلو وروسته ، د شپږو مېاشتو لپاره ترکیې ته ورکړل شي.

د افغانستان د لنډ مهال دولت رئیس حامد کرزي په څو څو ځله په ټولې نړیوالې ټولنې او په ځانګړې توګه د اروپایي ټولنې پر ټلوالې غږ کړې چې د خپلو ځواکونو لمنه دې د کابل له ښار د باندې پراخه کړي ؛ هغه په څو څو ځله د افغانانو له دغه دریځ څخه ننګه کړې چې عادي افغانان " د ډوډۍ او اوبو په پرتله لومړی امن او د افغاني ویاړ ساتنې ته" تړي دي .[13] " د افغانستان لپاره د اروپایي ټولنې د ټلوالې ځانګړې مامور [کلاوس پیټر کلیابر][14] هم ټینګار وکړ چې د آیساف د ځواکونو د لمنې له غځولو پرته " به سیاسي او د بیا رغاونې لړۍ په بریالیتوب تر سره نه شي.[15] " کلیابر وویل چې د آیساف د ځواکونو د لمنې د غځولو مأموریت دې " په جغرافیوي ډول " تر سره شي ، خو ټینګار یې وکړ چې د اروپایي ټولنې د ټلوالې غړې هیوادونه لا تر اوسه د آیساف د لمنې د غځولو په اړه د یوه ځانګړې دریځ په نیولو کې له یو بل سره پر یوګړې دریځ نه دي سلا شوي.[16]

په افغانستان کې د آیساف د ځواکونو د غځولو له دغو متکررو غوښتنو سره سره د اروپایي ټولنې د ټلوالې هیوادونو پلازمینې ، لا تر اوسه دومره لیواله نه دي چې نور سرباري پیټۍ پورته کړي. [17] لویه بریتانیا چې همدا اوس د آیساف د ځواکونو په بولنه کې مخکښه ونډه لوبوي په پام کې لري چې دغې ونډې ته د جون په مېاشت کې د پای ټکی کښېږدي ،

---

[10] هماغه

[11] Michael Gordon, "Fielding an Afghan Army is Months Off, US Finds," *New York Times*, March 21, 2002; Michael Gordon, "Where Does Phase 2 Start? In Afghanistan," *New York Times*, March 10, 2002.

[12] هغه هیوادونه چې په اوسني پړاو کې د آیساف په ځواکونو کې ونډه لوبوي دا دي : آستریا ، بلجیم ، بلغاریا ، ډنمارک ، فنلنډ ، فرانسه ، جرمني ، لویه بریتانیا ،یونان ، ایټالیا ، هالند ، نیوزلند ، ناروې ، پرتګال ، رومانیا ، سویدن او ترکیه. وګورئ : .

Center for Defense Information, "Fact Sheet: International Security Assistance Force (ISAF) in Afghanistan," February 14, 2002.

[13] Mohammad Bashir, "Karzai Leaves Paris Without Pledge on Expanding ISAF Role," Agence France
Presse, March 1, 2002.

[14] Klaus- Peter Klaiber

[15] Judy Dempsey, "EU's Special Envoy Seeks More Peacekeepers," *Financial Times*, March 8, 2002.

[16] "EU Afghan Commissioner calls for Expansion of ISAF Mandate, Criticizes Karzai," BBC Monitoring, March 10, 2002; "EU/Afghanistan: Union's Special Envoy to Afghanistan Pleads for Extension of Mandate," Agence Europe, March 8, 2002.

[17] Edward Alden, "Rumsfeld Calls on Allies for Extra Funding," *Financial Times*, March 16, 2002.

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خو په بل اړخ کې په کابل کې د بریتانوي لیوا پوځي لګښت ورکوي.[18] فرانسې هم چې د اپریل په مېاشت کې د ولسمشریزو ټاکنو په درشل کې ده د آیساف د ځواکونو د لمنې د مهالیز واټن دغځولو وړاندیز غندلی دی. د فرانسې ولسمشر ژاک شیراک ، حامد کرزي سره له لیدنې وروسته وویل چې : " ګومان نه کوم چې د آیساف د ځواکونو د لمنې د غځولو وړاندیز به د هواری سمه لار وبلل شي.[19] " دې ته ورته د جرمني چانسلر ګیرهارد شرودر وویل چې دی د آیساف " د ځواکونو د لمنې په غځونه کې شک لري " او ټینګار یې وکړ چې د نړۍ په نورو برخو د جرمني پوځي وړتیا د سولې ساتنې په نورو مأموریتونو کې غځېدلې ده .[20] هالند هم د ایټالیا په څیر د آیساف د ځواکونو د لمنې د غځېدنې په اړه خپل دریځ په څرګنده روښانه کړی دی.[21]

ډیرې هیوادونه هیله لري چې ترکیه دې د آیساف د ځواکونو عملیاتي بولنه په لاس کې واخلي او د کابل له ښاره دباندې د ځواکونو د غځونې په وړاندیز کې شک لري. پر هغه سربیره ترکیې د آیساف د وندې د پراخولو لپاره یو شمیر شرایط وړاندې کړی دی په دغو وړاندیزونو کې د افغانستان په جوړښت کې د ناتو د حضور په اړه د ډیرو مالي وندو غوښتنه ده.[22]

ملګري ملتونه

افغان لنډ مهالي دولت د خپل صلاحیت کړۍ ، د ۱۳۸۶ ل [۲۰۰۱ز کال] د ملګرو ملتونو د امنیت د شورى او د بن د منل شوی تړون له پولې څخه منحرفه کړې. دواړه لاسوندونه ملګرو ملتونو ته ستره پازوالي ور په برخه کوي چې په افغانستان کې د یوه ملکي ، ولس ټاکلي او ولس استازي دولت په جوړَونه کې د مرستې جوګه شي. د بن په تړون کې د لنډ مهالي واکمنۍ لپاره په ټاکل شوې موده کې د ملګرو ملتونو پر وندې ځانګړی ټینګار شوې چې د یوه ټینګ دولت په جوړولو کې خپله وندې و لوبوي : " ملګري ملتونه دې له لنډ مهالي واکمنۍ سره د یوه سیاسي طبیعي چاپیریال په رامنځته کولو کې مرسته وکړي ترڅو ولس د آزادو او بې پرې شرایطو ترسیوري لاندې و کولای شي خپل استازی رابلل شوي بیړنۍ لویې جرګې ته و ټاکي. ملګري ملتونه دې د بیړنۍ لویې جرګې د رابللو په چارو کې د سمبالوونکو ادارو پر کړو وړو ځانګړې پاملرنه نېغه کړي تر څو په دغو چارو کې له خپلې اغیزې څخه کار وانه خلي یا دې اغیزه ونه شیندي.[23] " د دې لپاره چې د افغانستان د شمال پرګنې په بیړنۍ لویې جرګې کې پرته له کوم ژب توکمیز یا مذهبي تړاوه د برابر ولسي استازیتوب وندې ولري ، ملګرو ملتونو ته ښایي چې له شته ستونزو سره سرو دې د امنیتي ستونزو د پلټنې په لاره کې کوټلي ګامونه اوچت کړي.

---

[18] هماغه

[19] Mohammad Bashir, “Karzai Leaves Paris.”

[20] Michael Adler, “Germany’s Schroeder opposes wider Afghan peacekeeping force,” Agence France Presse, March 14, 2002; Carol J. Williams, “Karzai Fails to Enlist Germany Diplomacy: Afghan leader is unable to persuade Berlin to take peacekeeping role when Britain steps down,” *Los Angeles Times*, March 15, 2002.

[21] Dutch foreign minister Jozias van Aartsen stated, following meetings with U.S. Secretary of State Colin Powell, that “The impression of the U.S. government and the Netherlands government as well … is that there is no need for an expansion of ISAF.” “Netherlands Against Expansion of Afghan Peace Force,” Reuters, March 18, 2002. Italian Defense Minister Antonio Martino stated that he was opposed to extending ISAF to cover all of Afghanistan, saying that such an expansion would be “very risky from a technical and military point of view.” “Italian Minister Against Widening Foreign Deployment in Afghanistan,” BBC Monitoring, February 5, 2002.

[22] Saaded Oruc, “Meeting on ISAF to be Held on Thursday,” *Turkish Daily News*, March 13, 2002; “Turkey Accepts Command of Afghan Peace Force,” Associated Press, April 1, 2002.

[23] Agreement on Provisional Arrangements in Afghanistan Pending the Re-Establishment of Permanent
Government Institutions, Annex II, Para. 3.

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د بیلګې په توګه د بن د تړون په دویمه څپرکی کې ملګرو ملتونو ته دنده سپارل شوې چې له لنډ مهالې اداري سره د بشري حقونو د سرغړونو د پلټنو او څارلو په چارو کې مرسته وکړي. د بن د تړون د دویمې څپرکی په ملپاڼه (ضمیمه) کې ملګرو ملتونو په ځانګړې توګه د سکرترجنرال د دفترځانګړي استازي لخضر براهیمي ته " حق " ورکړل شوې چې " د بشري حقونو د سرغړونو په پلټنو او په اړینو وختونو کې د سمو تدابیري اقداماتو په نیولو کې " ګام اوچت کړي. خو ملګرو ملتونو لا تر اوسه د څارنې پراخ بنسټه او اغیزمن سیستم نه دی جوړ کړی. ملګرو ملتونو ته تر ټولو حیاتي خبره د دغسې یوه میکانیزم جوړول دي ، په ځانګړې توګه په داسې یو پیر کې چې بیړنۍ لویه جرګه د رابلل کیدو په درشل کې ده.

نړیوالې ټولنې ته په ټولیز ډول ښایي چې د افغانستان په شمال کې د پښتنو پر وړاندې د بوړنوړي تاوتریخوالې مخه و نیسي ، دا هغه ګام دی چې د اوچتولو اټکلنه یې په نیږدې راتلونکې کې یوازې له افغان دولت څخه نه شي کیدلای. د ملګرو ملتونو د امنیت شورى ته ښایي چې د آیساف د ځواکونو لمنه د کابل له ښاره دباندې په ځانګړې توګه د افغانستان شمال ته و غځوي. له پخوانیو توپکواکو جګړه مارو څخه د هغوی د پخوانیو جنایاتو د حساب او کتاب اخیستنې (مواخذې) هڅې باید ګړندۍ شي او هم دې په افغانستان کې د ځورونو پروړاندې د نړیوالې ټولنې د څارنې وړتیا لا پیاوړې شي. د افغانستان د بیا رغاونې او د نوي دولت د مشروعیت لپاره د امن ټینګښت او د پخوانیو جنایاتو مواخذه تر ټولو اړین کار دی. په دغه لاره کې بل کوټلی ګام خپل ټاټوبي ته د میلیونونو افغانانو خوندي او له ویاړه ډکه داوطلبانه بیرته را ستنیدا ده چې اکثریت یې پښتانه دي – دوی یا په هیواد کې ددننه بې ځایه شوي کډوال دي یا له هیواده دباندې په ګاونډیو هیوادونو کې د کډوالو په توګه شپې ورځې تیروي.

د ملګرو ملتونو څو تنو لوړ پوړو رسمي چارواکو غږ کړی چې د آیساف د ځواکونو لمنه دې د کابل له ښاره د باندې و غځیږي. د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي لخضر براهیمي د ۲۰۰۲ز کال د فبروری په ۶ نېټه د ملګرو ملتونو د امنیت شورى ته د وینا پرڅ کې د کابل له ښاره دباندې د آیساف د کړۍ د پراخولو د ملاتړ د څرګندولو په ترڅ کې وویل : " په پلازمېنه کې د آیساف د ځواکونو عیني حضور د کابل په ښار کې امن ته وده ورکړي. د امن د ودې دغه حالت ددې لامل وګرځېد چې د [ایساف د ځواکونو د کړۍ د پراخولو] غوښتنه د عادي افغانانو ، افغان لنډ مهالې دولت او ان د جګړه مارو له پلوه هم وشي. " براهیمي زیاته کړه چې دی د آیساف د ځواکونو د کړۍ د پراخولو د غوښتنې ملاتړ کوي خو وروسته یې په احتیاط سپارښتنه وکړه : دا پریکړه به " کارپوهانو ته پریږدو چې څومره ځواکونه او چیرې دې ځای پر ځای شي [24] " د ۲۰۰۲ز کال د مارچ په ۲۰ نېټه براهیمي د افغانستان په شمال کې د پښتنو پر وړاندې د وحشت او بوړنوړي تاوتریخوالې په اړه ژوره اندیښنه څرګنده کړه او د خبرو په لړ کې یې هیله څرګنده کړه " هغه کسان چې د دغه وحشت د را پارونې پازوالې په غاړه لري هیله من دی چې سزا وویني. [25] "

کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د کمیسیون د بشري حقونو کمشنري میرمن میري رابنسون [26] هم افغانستان ته له سفر او په دغه هیواد کې د بشري حقونو له ارزونې وروسته د آیساف د کړۍ د پراخولو غوښتنه وکړه. میرمن رابنسون له خپل سفر وروسته وویل : " په اوسنۍ شېبه کې په افغانستان کې د بشري حقونو د ستونزو منځټکی ، بشري امن دی.[27] " رابنسون په ډیرو څرګندو ټکیو کې د کابل له ښاره د باندې د آیساف د ځواکونو د کړۍ د پراخولو د غوښتنې په لړ کې ټینګار وکړ : " زما په باور د اوسنیو نړیوالو ځواکونو کړۍ دې د کابل له ښاره دباندې پراخه شي ، ددغې غوښتنې اړینوالی هغه مهال را څرګندیږي چې څوک [دننه په افغانستان کې اوسي]... که په ټولنه کې بوړنوړی تاوتریخوالی وي ، وژنه وي ، داړه ماري وي ، شوکې وي او د ښځو پټ او ژوند له ګواښ او ویرې سره مخامخ وي د داسې ټولنې بیا رغاونه ، په هغې کې د امن ټینګښت او د بشري حقونو خوندیتوب ناشونی دی.[28] "

---

[24] "UN Backs Afghan Call for Larger International Force, Salutes Iran," Agence France-Presse, February
6, 2002; "Secretary-General, Special Representative Brahimi tell Security Council rapid disbursement of
funds essential for Afghan recovery," M2 Presswire, February 7, 2002

[25] Said Mohammad Azam, "UN's Afghan Envoy Expresses Fear Over Abuses in North," Agence France-Presse, March 20, 2002.

[26] Mary Robinson

[27] "UN Rights Commissioner urges more foreign troops in Afghanistan," Agence France-Presse, March 12, 2002.

[28] Charles Recknagel, "UN Condemns Attacks On Ethnic Pashtuns," Radio Free Europe, March 13, 2002.

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

منتلپک

د دغه ګزارش پلټنیزه برخه د ۲۰۰۲ ز کال د مارچ په مېاشت کې په شمالي افغانستان کې فرحت بخاري [29] تر سره کړه ، د بشري حقونو د ښځو د حقونو د پلټنې د څانګې پلټونکي : پیټر بوکارت[30] د بیرنیو چارو لوړ پوړی پلټونکی ، ویکرم پارکهـ[31] د آسیایي چارو پلټونکي او سمن ضیاء ظریفي [32] لوړ پوړي پلټونکي ول. نتهالي ګودارډ [33] د بشري حقونو د څار سلاکارې په کابل کې لوژیستکي او د نورو پلټنو مرسته ترسره کړه.

ګزارش پیټر بوکارت ولیکه اود آسیایي چارو اجرائیوي مشر ویکرم پارکهـ ، سیدني جونز[34] د حقوقي چارو سلاکارې ، الیسن پارکر[35] ،د کډوالو د چارو د پالیسي همکار مأمور لیونارډ .ح. سنډلر[36] او د پروګرام مرستیال میشل مک کلنتوک[37] اصلاح کړ . جانتن هورو ویتز[38] ، نیلا ډي سویزا[39] او وین هوا یانګ[40] د خپلو ارزښتمنو مرستوسپما ونه کړه. د خپرونو د چارو مشر پتریک مینګ[41] دغه ګزارش د خپرولو لپاره چمتو کړ.

تیم لونز[42] په ګزارش کې وړاندې شوې نقشه د بشري حقونو د څار ټولنې ته د افغانستان لپاره د مالوماتو د سمبالولو اداري [اي آی ایم ایس][43] د مالوماتو د ټولګې پر بنسټ برابره کړه.

زموږ پلټونکو په افغانستان کې د خپلو لوژیستکي اړتیاوو او له جګړې وروسته چاپیریال کې د رامنځته شویو امنیتي ننګونو پروړاندې پراخې مالي بسپنې ته اړتیا در لودله ، د بشري حقونو د څار ټولنه غواړي له لاندنیو مرستندویو بسپنه ورکوونکو څخه د زړه له کومې مننه وکړي چې په افغانستان کې یې د بیړنې کار لپاره پر ځای او په وخت ، په ورین تندي د مالي مرستې لاس را وغځاوه : د جان ډي. او کاترین . ټ. مک آرتر[44] بنسټونه ، راک فیلر برادرز فنډ [45] او ستیچنګ دون[46]

د بشري حقونو د څار ټولنه له سیمه ییز نړیوالو ادارو څخه چې د افغانستان په شمال کې د دغې پلټنې په اړه یې زموږ له پلټونکو سره مرسته کړې د زړه له کومې مننه کوي ، موږ د امنیتي لاملونو له امله د هغوی نومونه دلته نه را اخلو.

---

[29] Farhat Bokhari
[30] Peter Bouckaert
[31] Vikram Parekh
[32] Saman Zia-Zarifi
[33] Nathalie Godard,
[34] Sidney Jones
[35] Alison Parker
[36] Leonard H. Sandler
[37] Michael McClintock
[38] Jonathan Horowitz
[39] Neela De Soyza,
[40] Wen-Hua Yang
[41] Patrick Minges
[42] Tim Lohnes
[43] Afghanistan Information Management Service (AIMS)
[44] John D. and Catherine T. MacArthur Foundation
[45] Rockfeller Brothers Fund
[46] Stiching Doen

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د بشري حقونو د څار ټولنه
د ښځو د حقونو څانګه

د بشري حقونو د څار ټولنه د نړۍ په هر ګوټ کې د خلکو د بشري حقونو د خوندي ساتنې لپاره ژمنه ده.

موږ د جنایاتو له بلهاریانو او د جنایاتو پر وړاندې د هڅاندو فعالینو تر څنګ اوږه په اوږه ولاړ یو ترڅو جنایتکاران د عدالت منګولو ته و سپارل شي ، د بیلتونپالنې او د جنسي لوړتیا پالنې مخه ونیول شي ، سیاسي خپلواکي وده وکړي او د جګړو پر مهال انسانان له غیرانساني چلند څخه و ژغورو.

موږ له بشري حقونوڅخه د سرغړونو په اړوند پلټنه کوو ، موږ د مقصرینو مخونه رابربنډوو او هڅه کوو چې مواخذې ته یې را وکاږو.

موږ دولتونه او ځواکمنې کړې ننګونې ته را بولو ترڅو له ځورووونکي او کړوونکي چلند څخه لاس پر سر شي او د بشري حقونو د نړیوال قانون درناوی وکړي.

موږ په خپلو لیکو او هلو ځلو کې نړیواله ټولنه را ګډوو چې د ټولو لپاره د بشري حق په ننګه او ملاتړ کې له موږ سره ودریږي.

زموږ د ټولنې د کارکوونکو نومونه او دریځونه :

Kenneth Roth, executive director;
Michele Alexander, development director;
Reed Brody, advocacy director;
Carroll Bogert, communications director;
John T. Green, operations director,
Barbara Guglielmo, finance director;
Lotte Leicht, Brussels office director;
Michael McClintock, deputy program director;
Patrick Minges, publications director;
Maria Pignataro Nielsen, human resources director;
Malcolm Smart, program director;
Wilder Tayler, legal and policy director; and
Joanna Weschler,United Nations representative.
Jonathan Fanton is the chair of the board. Robert L. Bernstein is the founding chair.

د بشري حقونود څار د ټولنې د ښځو د حقونو د څانګې بنسټ په ۱۹۹۰ز کال کې کښیښودل شو او موخه یې د نړۍ په هر ګوټ کې د ښځو پر وړاندې د بوږنوړي لوړتیاپال او بیلتونپال چلند مخنیوی او څارنه ده د دغې څانګې کارکوونکي دا دي :

LaShawn R. Jefferson is the executive director;
Widney Brown is theadvocacy director;
Farhat Bokhari, Chirumbidzo Mabuwa, Isis Nusair, Judith Sunderland, and Martina Vandenberg are researchers;
and Tejal Jesrani and Smita Varia are associates.
Kathleen Peratis is chair of the advisory committee.

په نړیواله ځالګۍ کې زموږپته :

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

http://www.hrw.org

که غواړئ د بشري حقونو په اړوند زمو گزارشونه تر لاسه کړئ او ستاسو نومونه زموږ په نوملیک کې وي او له موږ سره اړیکه و نیسـئ نو د لاندیني بریښنالیک له لارې له موږ سره اړیکه ونیسـئ :

majordomo@igc.apc.org

د بریښنا لیک د موضوع ځای تش اوسپین پریږدئ

ژباړه : رحمت آریا
آگست ۲۰۰۹

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ